ژباړه : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۰/۸/۲

# د جګـړې ربښـتـيـنـي څـيـره(*)

لیکوال : فون توماس شپنګ

تر اوسه د امريکې متحده ايالاتو د ۹۲۲۰۱ پټو پوځي اسنادو افشا کيدلوسره د افغانستان د جګړې يو زړه بوګنوونکي انځور ورښيي. د ګدويو پروتوکولونه او له شرمه ډکې تيروتنې. د افغانستان په اړه د سرکاري پټو لاسوندونو افشا کيدل متحده ايالات او د دوی ملګرې يې له سترو نګونوسره مخامخ کړي دي.

واشنګټن، لندن، برلين : په افغانستان کې جګړه د اسلامي بنسټپالو طالبانو په وړاندې له هغې ډيره خيرنه، چټله او ګوابنناکه روانه ده، له کومې نه چې موږ پرې تر اوسه خبر يو. څنګه چې د امريکې متحده ايالاتو د پوځ د ۹۲۲۰۱ پټ اسناد په انټرنيټ کې افشا کړل شول. د ملکې وګړو د وژنې کچه له کومې نه چې موږ پرې پوهيږو ډيره لوړه ده.

د الماني پوځ په سيمه کې بد امنې له هغه نه زښته ډيره شوې، کوم چې د المان فدرالي حکومت يې منې.
د ويکيليکس ويب پاڼې له خوا د سندونو افشا کولو څخه داسې ښکاري چې د امريکې متحده ايالات پوځ له کالونو کالونو څخه د پاکستان پوځې استخبارات آي اس آي سره مستقيماً همکاري او د طالبانو سره اړيکې لري. له بله پلوه دوی پر افغان ملګري اعتبار نه لري، ځينې رشوتخور دي او ځينې بيا خپل هيوادوال ځور وي او شکنچه کوي. د المان دفاع وزير کارل تيودو څوګوتمبرګ د فونيکس د ټلويزيون سره په مرکه کې وايي : " موږ په دا تيرو څو کالونو کې حقيقت مو په خپله ځان ته راخوړ کړي وو."

دا پټ اسناد پرون شپه د امريکې پوځ په اړه چې په هندوکوش کې جنګيږي د ويکيليکس ويب پاڼې له خوا افشا او رسوا شول . د ويکيليکس ويب پاڼې بنسټ ايښودونکې جولين اسانج په لندن کې خبريالانو ته وويل ،چې په دغه محرنو اسنادو کې د جنګې جرايمو په اړه ثبوتونه شته دي . خوپه دې اړه کوم ثبوت يې وړاندې نه کړو. د نړۍ نامتو خبري رسني لکه د لندن څخه ګارډين، نيويارک ټايمز ورځپانو او د جرمنی مجله ډيرشپيګل هر يو په خپل وار سره د دغو محرمو اسنادو پلټنه او څيړنه کړي ده او وايي، چې اټکل دا ټول لاسوندونه او راپورنه له جبهې څخه زموږ سرتيرو ليږلي دي . د ډير راپورنو او مالوماتو سمه پته نه لګيږي . د مالومات سرچينه بيا د پوځ له خوا او افغاني مالومات او امنيتي چاروکو له خوا اعتباري ګڼل کيږي . ګارډين ليکي، په سلګونو افغان ملکيان په نا څرګندو عملياتو کې د نړيوالو ځواکونو له خوا وژل شوي دي . په پټو اسنادو کې ۱۴۴ پيښې چې په کې ۱۹۵ بې ګناه ملکيانو وژنه ثبت شوي ده.

دافغانستان په شمال کې د المان پوځ د عملياتو په سيمه کې جګړيز عمليات زښت ډيرشوي دي. امريکايې خاص ځواکونه په خاصو شرايطو کې له دوی سره کله کله مرسته کوي، ډير شپيګل ليکې.

د امريکې ډيټو عملياتو ځواک Task Force ۳۷۳ دنده لري چې طالب مشران ژوندي ونيسي او يا يې ووژني. د شپيګل په حواله د ۲۰۰۹ کال له اوړی نه را په دې خوا ۳۰۰ ميره له دغو ځواکونو څخه په مزاری شريف کې د جرمنيانو په کمپ مارمل کې ځای پر ځاې شوي دي. دغه پوځيان له همدې ځاې څخه مستقيماً دنده اخلې او په نښه شوي وژنې تر سره کوي. همدا مجله ليکې، په اسنادو کې هيڅ ډول اشاره د الماني سرتيرو په اړه چې سرغړونو او پر ملکې وګړو يې تيرې کړي وي او موږ ته يې پته نه وي نشته. په همدې پټو اسنادو کې ويل کيږي چې الماني سرتيري په هيڅ ډول اماده نه وو، کله چې دوی هندوکوش ته د جګړې لپاره ليږدول کيده. په دغه اسنادو کې ډير داسي ثبوتونه شته چې د پاکستان آې اس آې په افغانستان کې له بنسټپالو سره مرستې او همکاري کوي. په اسناد کې ددغې څارګرې ادارې مستقيمي اړيکې له ترهګرو ځالې القاعدې سره په اثبات نه دي رسيدلې. د ۲۰۰۴ تر ۲۰۰۷ کالونو کې په پټو سندونو کې په وضع توګه ليدل کيږي چې آې اس آې له طالبانو سره مرسته او دوی ته په پاکستان کې پټنځايونه برابرکړي دي. د پاکستان حکومت دغه تورنه ټول رد کړي دي. حسين حقانې د پاکستان سفير په واشينګټن کې وايې.
پاکستان ، افغانستان او امريکا ستراتيزيک ملګري د طالبانواو القاعدې پر وړاندې دي . د ۲۰۰۴ تر ۲۰۰۹ کالونو کې په درېو پاڼو کې سم مالومات د افغانستان د رسمي ادعاو په اړه ښيي. په پټو اسنادو کې هيڅ ډول ٍضدو نقيس ادعاوي له رسمي ادعاو سره په پرتله نه ليدل کيږي . امريکايې پوځيانو په خپلو راپورنو کې ډيرې مسلې يې په ډير سطی ډول وړاندې کړي دي، نيويارک ټايمز ليکې :
واشنګټن : د ۲۰۰۷ کال د جون مياشت په نيمايې کې پنځو امريکايې توغونديو د پکتيا په ولايت کې ګڼ شمير کورنه په نښه کړل، هلته ګمان کيده چې د القاعدې قوماندان ابو لايت ال ليبی پټ وي. د توغنديو بريد په شپه کې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ترسره شو، د خاص ضربتي ځواک فورسس ۳۷۳ سرې د پېښې ځاې ورغلل. امريکايي خاصو ځواکونو چې هلته ورسيدو د ترهګرو مشر په ځاې کې ووه وژل شوي ماشومان وموندل. د پوځ رپوټ د غې پيښې په اړه داسي وړاندې شوي، شپږ ميره د تېښتي په حال کې و چې وژل شول، نور ټول ونيول شول.

امريکايانو په بيړه کې د پکتيا والي ته يوه کوچنې پانه په لاندې متن کې ورکړه. لاملونه چې له دې سره مرسته وکړي او د ولسي خلکو غبرګون د دغې ستري پوځې تيروتنې په اړه لږ څه راتيټ کړي. د امريکايانو د پروتوکول سره سم والي بايد څو تګې خپله په متن کې ورزياد کړي. زموږ د تاريخ د دود پر کرښه . . . او زياته وي، که ولسي وګړو وسله وال مخلفينو ته ځاې نه وي ورکړي نو دا ناورين به نه واى رامنځته شوي.

ال ليبي يو کال ورسته د امريکايانو د بې پيلوټه الوتکو په بريد کې ووژل شو. د پکتيا پيښه يوه بيلګه د ۹۲۲۰۱ پټو لاسوندونو څخه ده چې د ويکيليکس ويب پانه له خوا خپاره کړل شوي دي

http: wikileaks:org/ wiki
wikileaks.org/wiki/Afghan_War_Diary,_2004-2010

په دغه پټه کې له ۲۰۰۴ نه تر ۲۰۱۰ د افغان د جګړې ورځينې رپوټونه ليدل او لوستل کيږي. د يو ډول ورځينې کتاب په څير د جګړې بهير له ۲۰۰۴ کال جنوري څخه تر ۲۰۰۹ کال دسمبر پوري موده په کې رانغړل شوې ده. پوځې پورتوکولونه، استخباراتي اسناد او د ډيپلوماتانو جز يات په دقيق ډول په کې ليکل شوي دي. په نا فلتر شوي يا نا سانسور شوي پورتوکولونو کې، يوه برخه نا اشنا مالومات هم شته چې يو ګډود، اکثره يومخشوش انځور د هندوکوش له کړکېچ څخه ورښيې.

نا اشنا خاص ضربتې ځواکونه په ويکيليس ويب پانه کې د پټو اسنادو خپارولو سره سم ډيرشپيګل، ګارډين او نيويارک ټايمز ورځپانو په دغه بې سارې کچه سندونو ته سورې او دهغو افشا او رسوا کولو سره د جګړې په اړه خپله همکاري او مرسته تر خاورې لاندې کړه. دغې دريو واړو رسنيو دخپريدو څخه مخکې دپټو اسنادو په اړه د باورى سرچينو تصديق يې له ځانه سره درلود.

که څه هم د جګړې په اړه ډير افشا شوي اسناد او پرمختګونه موږ ټولو ته څرګند دي . د دغو اسنادو افشا کول موږ ته نوې ليد لوري اوموږ د نويو پېښتنوسره مخامخ کوي . د سارې په توګه د ضربتي فورسس ۳۷۳ عمليات چې تر اوسه يې شتون موږ ته ثابت نه وه . د پوځ د پټو اسنادو پر بنسټ د خاصو ضربتي ځواکونه موخه يواځې او يواځې د القاعدې او طالبانو مشران په نښه کول او له منځه وړل دي . دا خاص روځل شوي ځواکونه د Army Delta ،، ارمي دلتا،، او Navy Seals څخه رامنځته شوي دي . د دوی د عملياتو پر مهال په وار وار بې ګنا ملکيان وژل شوي دي . په ټوليزه توګه په دغه اسنادو کې ۱۵۰ پيښې ليکل شوي دي چې په کې بې ګناافغانان وژل شوي او ټپيان شوي دي . ځکه دوی په ناسم وخت کې په ناسم ځاې کې وو . او يا د ايتلافي ځواکونو له خوا په سهوه کې د وسله وال مخالفينو په څير په نښه شوي دي . د ډيرو پيښو په اړه تر اوسه هيڅ رپوټونه دي ورکړل شوي . د امريکې پوځ د ځينو پيښو په اړه باکل بله بڼه د پيښو انځورکړي لکه څنګه چې په افشا شويو اسنادو کې ليکل شوي دي . د بيلګې په توګه نوې خبره دا ده چې طالب وسله وال دځمکې نه هوا ته په تودوخه سي رهبري شويو توغنديو باندې سمبال شوي دي . سټنګر په ډيره اسانې سره بې له کوم خاصو زدوکړو څخه له اوږي څخه توغول کيږي . د بنسټپالو مخ په زياتيدونکې برې د متحديونو د چورلکو په ويشتلو کې له همدې امله دی . دغه د وسلو پرمختللې سيستم د دې لامل هم شو چې دپخوانې شوروي اتحاد يرغلګر پوځ له ماتې سره مخامخ شي . د پټو اسنادو په پر وتوکولونو کې ليکل شوي چې دناټو ځواکونه د وسله والو مخالفينو دسټنګر په کارولو باندې پوهيږي . لا تر اوسه عام خلک له دغې مسلي خبر نه دي . همداسي د طلبانو دسخت مقاومت په اړه اود دوی له خوا په خپله جوړ کړل شوي بمونه د ملکې وګړو په ضد کارول ياده وي . د محرمو اسنادو پر بنسټ لږ ترلږه دوه زره بې ګنا ولسي وګړي د همدې ډول عملياتو په ترڅ کې وژل شوي دي . دپټو لاسوندونو پربنسټ بله د شوک خبره دا ده چې د پاکستان پوځې استخبارات اې اس اې رسمآ د متحدينو سره کارې کوي او ورسره د دوی په شاه کې له وسله وال مخالفينو سره همکاري کوي . دا تورونه د محرمو رپوټونو پربنسټ په لاندې ډول دي . پر افغان ولسمشر باندې دبريد دسيسه، د خپلو موخو لپاره خند سياسي چارواکي ، جنرالانو لمنځه وړل او اند د بيرو په زيرمو کې زهر اچلول چې امريکايي سرتيرو ته وروړل کيږي . د امريکې له خوا پاکستان ته د ترهګرپه وړاندې جګړه کې د کال يو ميلياردو ډالرو مرسته ورکول کيږي . دا شونې ده چې اې اس اې دغه مرستي په مستقيم ډول طالبانو ته ورکړي وي . له همدغو پيسو څخه د مقاومت يو مشر جلاالدين حقانې ته ۱۰۰۰ موټرسيکلونه اخيستل شوي دي . له دغې موټرسيکلونو څخه په خوست او لوګر ولايتو کې په ځانمرګې بريدونو کار اخيستل شوي دی . د محرم اسنادو ژبه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

داسي ښيي چي امريکا له ډيره مودې څخه پوهيده چي پاکستان دوه مخي لوبه کوي . کله د امريکي په خوا کي لکه ملګري او کله دښمن په ډول له طالبانو سره مرسته کوي او په افغانستان کي وسله وال مقاومت سمبال وي .
د بې پيلوټو الوتکو معجزه
په دغو رسوا شويو اسنادو کي لړ څه نوي جزيات د بي پيلوټه الوتکو بريدونه دي چي دامريکي ولسمشر اوباما په دور کي زښت ډير زواخيستي، تر سترګو کيږي. سربيره پر ټولو اصولو، مقرراتو او لواحي بياهم په امريکا کي د ريموټ کنټرول په واسطه د هوايي بريدونو چي د Predators يا Reapers له لارې ترسره کيږي تل له تير وتني سره مل دي له همدي امله بې ګنا ملکيان وژل کيږي او دمتحدينو سرتيرو اعتبار په ولسي وګړو کي تر خاورلاندي کيږي.

دسپيني مانۍ غبرګون د غر په څير د پټو اسنادو خپرولواو افشا کولو په اړه له قهر ډک او په سختوتکو کي وغندل شو. د امريکا د ولسمشر د ملي امنيت سلاکار جيمز جونز وويل، د امريکي متحده ايالات د استخباراتو پټ مالومات افشا کول د شخصي او تنظيم شويو انفرادي کسانو له خوا په کلکه غندي. پټو سندونو ته دا غير مسوول سوري امريکايانو او زموږ متحدينو ژوند ته ګواښ پيښ کړي دی. داسي حرکتونه به دامريکي متحده ايالات د خپل ګډ دښمن په لمنځه وړلو کي ايسار نکړي.

سپيني مانۍ د يو بريښناليک له لارې د څو ټکو د ليکلو له لارې هڅه کوي په رسنوالو کي د دغې سورې ارزښت کم کړي. د محرمو اسنادو مهال د جورج بوش مهال ته ورګرځي. ولسمشر اوباما په افغانستان کي دغې حالت ته ګوتنيوکه کړي او د واک په لاس ته لاوړلو سره د يوې نوي ستراتيجي له لارې غبرګون ښودلی دی. نوره ۱۵۰۰۰ اسناد

واشنګټن : دا ځل به پټ توکي په نا فلټر شوې ډول د استراليا جوليانو اسانج په ويب پاڼه کي بيا خپاره نشي. د ويکيليکس ويب پاڼي مسوول چلوونکي دغه پټ اسناد يې تر خپريدو مخکي دريو موټبرو رسنيو ته ورليږلي وو چي وکتل شي. ډير شپيګل، ګارين او نيويارک تايمزهريو خپل ريپورټران يا رسنوال د څو اونيو لپاره پر دغه ۹۲۲۰۱ پټو اسناد کينولي او کارې پرې کړي وو چي په اسنادو کي پټه رازونه رابرسيره کړي او د اسنادو اعتبار او بې پريوالي وارزوي.
ټول اټکل ۱۵۰۰۰ پټ سندونه نورهم شته چي په يو مناسب وخت کي به د ټولو نړيوالو په مخکي رڼا و ګوري. د ولسمشر او باما د ملي امنيت سلاکار جيمز جونز مخه به هيڅ شي ډب نه کړي چي دی دي نورو پټو اسنادو افشا کول ته يو غير مسوولانه عمل ونه وايي. د امريکي پوځ جګپوړي افسران دا څيري چي واشنګټن به د ويکيليکس ويب پاڼي پر وړاندي کوم قانوني ګام اخيستلي شي او کنه.
شننه :
موخه ونه لګيده وارئ خلکو وارئ، په افغانستان کي يوه خيرنه او چټله چيريکي جګړه روانه ده. دډير و بې ګنا ملکيانو وژنه، د ايتلافي پوځي تير وتني، تر يوې کچي د پرمختلليو مدرنو وسلو پاتي راتلل او د پاکستان څارګري اداري اي اس اي دوه مخي يا دوه ګوني مکار او منافق رول په لويه کچه پرمخ بيول او د المانانو په ساده فکر سره په دغه کرکيچ کي ورګډيدل. امريکايان خپل خاص زربتي ځواکونه لري چي دوی د طالبانو بولندويان په نښه کوي او له منځه وري. هو په جګړه کي دا د خاصو ځواکونو دنده ده. له همدامله د دوی عمليات پټ ساتل کيږي. داسي نه وي چي پټ عمليات د شپي په خبرونو کي خپاره شي. چا چي په هندوکوش کي پدې ورستويو کالونو ځان له پرمختګونو څخه په مسلسل ډول لرڅه خبر کړی وي. هغه له ويکيليکس ويب پاڼي له لارې د دغو پټوسرکاري اسنادو افشا او رسوا کولو څخه هيڅ نوي شي نشي اخيستي. امريکايي سياسي چاراواکو، ديوځي جګپوړوافسرانو د جبهي سرتيرو د ريپوټونو او اسنادو په اړه يو کال مخکي غبرګون ونښود. د لوی قوماندان جنرال مکرېسټل له خوا د ولسمشر اوباما له سياست سره سم په ستراتيجي کي بدلون چي اوس د هغه ځاي ناستي جنرال پيټروريياس له خوا د تګلارې بدلون پلي کيږي.

لومړی د ځواکونو ډيريدل او د پوځي موخي د لاسته لاوړلوسره سم زر ځواکونه بايد بيرته ويستل شي.
هغه څه چي ويکيليکيس د امريکي د پوځ په تاريخ کي تر ټولو لوی او په دغه کچه افشا کول څخه تر لاسه کوي هغه دا دي. چي دلته په ډير احتياط سره پټ شوي غلي کړل شوي جنګي جنايات رابرسيره کړي. لکه څنګه چي په بغداد کي دناموتو هيليکوپټرې هغه بريد ويډيويي تصاوير خپاره کړل؟ نه او يا هغه نيمګړتياو به افشا او رسوا کړي کوم چي موږ ته يې پته نشته ؟ نه، او يا به دنړيوالو او عامه زهينت يو سم انځور دجګړې څخه ترلاسه کړي؟

سرې مجبورکيږي دا خبره هم ۹۲۲۰۱ يوه يو ه يا جلا جلا پيښو پربنسټ را غونډ شوي ستدونه چي تر يوه اندازي پورې پر مشکوک مالوماتو را څرخي. نه، ووايو. او يا داچي په افغانستان کي به جګړه ختمه کړي ، يا دا چي جګړه لړ ترلړ په دومره زړه بوګنوونکي ډول نوره پرمخ ولاړه نه شي ؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

د ا شوني ده چي دا ټول توکي طالبان په حقه سره د خپلو پروپاګنډو او برې لپاره وکاروي او دخپلو عملياتو لپاره وزو ورکړي تر څو چي د دوی سرعت لا نوره کړندې شي. داسمه ده چي ولسواکي د درې ګونو ځواک له ويش سره سم پر دولتي اورګانو باندې د ازادو ډليزو رسنيو له لارې کنټرول ته اړتيا لري. زړور، ويښ او هوښيار ژورناليزم نه يواځې له افشا او رسوا کولو څخه ژوند کوي او نه د ډليزو رسنيو دنده دلته پای ته رسيږي. بلکي ريښتيا ته نږدې کيدل افشا کول خپله دنده بولي او د موخې ګټي په عام ډول تر پوښتنو لاندې راولي.

ښاغلي اسانج په انټرنيټ له خپرولو څخه څه غواړي؟ دې غواړي هغه سرې تم کړي چي جګړې ته يې متي رانغښتي دي. دا ځکه ناشوني ده چي د ده هڅې يوې خوا ته پام نيولې دی. ولسمشر اوباما جګړې ته لارښوونه کوي، دی غواړي چي څومره زر وي دا جګړه پای ته ورسوي. دا چارې دې يواځې له يو ځواکمن موقف څخه کولې شي. د ۹۲۹۰۱ پټو لاسوندو افشا کول يوه ستره کمزوري د دغې هيله من سړې يعني بارک اوباما ده، نه ويکيليس ويب پاڼي نه يې نړی ښه کړه، نه يې ډادمنه کړه او نه يې نړی سوليزه کړه. يواځې اوس ډيرې خبرې د هندوکوش په جګړه کي نوره پټ او محرم اسناد نه دي.

(*) د المان له ويزه کورير ورځپاڼي څخه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ